# د ماشومانو ادبیات
## او د هغوی د روزنې لارې چارې

(د علمي - څېړنیز سیمینار د مقالو ټولګه)



د ماشومانو ادبیات
او د هغوی د روزنې لارې چارې

(د علمي - څېړنیز سیمینار د مقالو ټولګه)

# Children's Literature and its Educational Methods

(Collection of Scientific Research Papers)

ISBN 978-9936-672-10-9

9 789936 672109

2026

Afghanistan Science Academy

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

# د ماشومانو ادبیات او د هغوی د روزنې لارې چارې

## (د علمي - څېړنیز سیمینار د مقالو ټولګه)

سریزه، ترتیب او تدوین:

**څېړنپوه محمد آصف احمدزی**

**د علمي کمیسیون غړي:**

- څېړنپوه دکتور سید نظیم سیدي
- څېړنپوه محمد آصف احمدزی
- سرمحقق برهان الدین نظامي
- څېړنپوه دکتور رفیع الله نیازی
- سرمحقق علیشېر رستګار
- معاون سرمحقق دکتور نورمحمد محبي
- معاون سرمحقق عبدالمجید ندیم
- څېړنوال رحیم الله حریفال
- څېړنوال دکتور عبدالاحد منګل
- څېړنوال دکتور محمد داود عربزی
- څېړنوال احسان الحق کبیر
- څېړنوال شریف الله سانېن
- څېړندوی مطیع الله ساحل
- محقق عبدالناصر مبشر
- معاون محقق روزي محمد عمر
- معاون محقق مظهر الدین لبیب

## د کتاب ځانګړنې

**د کـتاب نوم:** د ماشومانو ادبیات او د هغوی د روزنې لارې چارې

(د علمي- څېړنیز سیمینار د مقالو ټولګه)

**سریزه، ترتیب او تدوین:** څېړنپوه محمد آصف احمدزی

**د چاپ کال:** ۱۴۰۵ هـ.ش / ۱۴۴۸هـ.ق

**د چاپ ځای:** حبیب ناصري مطبعه

**خپرندوی:** د افغانستان علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**آدرس:** د افغانستان علومو اکاډمي، شاه بوبوجان کوڅه ، شهرنو، کابل

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د اړیکې شمېره : ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۰۰۹۳)**

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست ایمیل:** info@asa.gov.af

**ISBN:** ۹-۱۰-۶۷۲-۹۹۳۶-۹۷۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمدلله رب العٰلمين والصلوٰة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وأصحابه أجمعين.**

# لیکلړ

**سرلیک** **مخ ګڼه**


سریزه ........................................................................................................ ۱

## پیغامونه او ویناوې

د ماشوم د ادبیاتو د ارزښت، اړتیا او پیاوړتیا په اړه سیمینار ته د ا.ا.ا د رئیس الوزراء پیغام ................. ۶

د افغانستان د علومو اکاډمي د لوی رئیس شیخ الحدیث مولوي فریدالدین محمود د وینا متن .......... ۸

د اطلاعاتو او کلتور وزارت پیغام ........................................................................ ۱۱

د پوهنې وزارت پیغام.................................................................................... ۱٤

د کار او ټولنیزو چارو وزارت پیغام ...................................................................... ۱٦

د کابل پوهنتون پیغام..................................................................................... ۱۸

د ښوونې او روزنې پوهنتون د رئیس پیغام ............................................................... ۲۰

د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د رئیس د وینا متن......................................... ۲۲

## علمي- څېړنیزې مقالې

### لومړی برخه / د ماشومانو ادبیات

#### عمومي تیوریکي موضوعات

د ماشوم د ادبیاتو اهمیت او اړتیا / څېړنپوه دکتور رفیع الله نیازی........................................ ۲۸

بررسی ادبیات کودک از منظر اسلامی / د. محمد عمر مبارز............................................. ٤۹

پر ماشومانو د ادبیاتو څو اړخیزې اغېزې / څېړندوی یاسر پاچا سادات .................................. ٦۱

د ماشوم ادبیاتو اړتیاوې او د پنځوونکو وړتیاوې / څېړنوال دکتور محمد اسحق خاورین ................. ۷۵

د ماشومانو د ادبیاتو هدفونه او د لیکلو ادبي آثارو ځانګړنې / اکاډمیسین سید محی الدین هاشمي... ۹۲

نقش ترجمه در تحول و گسترش ادبیات کودک در افغانستان / محقق الهه مقصودی ................ ۹۹

د ماشوم ادب په پرمختیا کې د ټکنالوژۍ ونډه / څېړندوی شوکت الله عمر ............................ ۱۱۹

کودک و ادبیات کودک از دیدگاه جامعه‌شناسی / سرمحقق عبدالجبار عابد.............................. ۱۳۵

د ماشوم ادب د کره کتنې محورونه / پوهنوال فهیم بهیر ............................................ ۱٤۵

د منځمتنیت نظریې پر اساس د ماشوم ادبیاتو څېړنه / څېړنوال احسان الحق کبیر .................. ۱۵۸

## تاریخي بهیر


سیری در تاریخ ادبیات کودک در افغانستان / معاون سرمحقق مایل آقا حکیم ........................ ۱۷۱
په تېرو دوو لسیزو کې د ماشوم ادبیاتو د پرمختیایي بهیر ارزونه / څېړنپوه محمد آصف احمدزی ..... ۱۸۷
قاری نیک محمد شهید و نقش وی در تربیت اطفال افغانستان / سرمحقق برهان‌الدین نظامی ..... ۲۳۲
بررسی مولفه‌های تعلیمی در ادبیات کودک / معاون سرمحقق مارینا بهار ........... ۲۴۲


## منظوم ادبیات


د ماشوم د شعر ځانګړنې / **پوهندوی میرویس خالقیار، پوهنمل محمدقسیم کشاف** . ۲۷۹
جستاری تحلیلی بر بافتار و محتوای شعر کودک در افغانستان / سرمحقق علی‌شیر رستگار ...... ۳۰۵
ماشومانو لپاره د شعري ژبې او انځور څرنګوالی / پوهندوی ګل رحمن رحماني ........... ۳۱۶
ماهیت و مفهوم شعر کودک (مطالعه‌ی موردی ادبیات دری) / پوهنوال عبدالمحیط تبیان،پوهنمل عبداللطیف خالد بیک ........................................ ۳۲۸
د ماشوم د منظومو ادبیاتو رواني څېړنه / څېړنوال دکتور محمد داود عربزی ................ ۳٤٦
د ماشوم په ادب کې د ژوو د کرکټرونو څېړنه / څېړندوی مروت درد ................................ ۳٦٤
د ماشومانو د نظمونو تخیلي منځپانګه / څېړندوی محمد اتل انګار................................ ۳۸۸
د ماشومانو لپاره د لیکل شویو شعري ټولګو ارزونه / څېړندوی مطیع الله ساحل .................... ٤۰۱
د ګوَري ژبې د ماشوم منظوم ادبیات / څېړنوال شریف الله سانېن .......................... ٤۱۷
د ماشومانو د نظمونو ښوونیزه منځپانګه / څېړندوی پښتون پښتون ................................ ٤۳۸
د ماشوم ادبیاتو په منظومه برخه کې د محمد نواز حقیقت سانېن ونډه/ څېړندوی بشرمل زرغون .... ٤٥٤


## منثور ادبیات


د ماشوم د کیسو ارزونه / څېړنپوه دکتور سید نظیم سیدي ........................................ ٤۷۲
د ماشوم لپاره څه ور کیسې ولیکو او څنګه یې ولیکو؟ / څېړنوال دکتور نورالحبیب نثار ............... ٤۹۷
تحلیل افسانه‌ی «مار خردمند» بر اساس نظریه‌ی روایی پل ریکور/ عطاءالله ذاکری.................. ٥۱۷
د ماشومانو د منثورو کیسو کرکټرونه / څېړنوال دکتور عبدالاحد منګل ..................... ٥۳۷
د خوشحال خان په دستارنامه کې د «اولاد تربیت» هنر مطالعه / دکتور سید اصغر هاشمي .......... ٥٥٦
د ماشوم د داستاني ادبیاتو د ځانګړنو تحلیلي څېړنه / څېړندوی حضرت آغا همدرد ................. ٥٦٦
د ماشومانو په پښتو کیسو کې د STEM مفاهیمو اړتیا او ارزونه / پوهنمل عزت‌الله سهاند ............ ٥۸٤
تحلیل و بازتاب ادبیات کودک در نثر معاصر زبان اوزبیکی / محقق امان الله ضیایی ........... ٦۰۹
د دستارنامې د دولسم هنر اروایي او پیداګوژیکه څېړنه/ څېړندوی خالد تکل ........... ٦۲۱

## ژبني او ژبپوهنيز موضوعات


د ماشوم د ژبې د ودې پړاوونه / څېړندوی احمدالله وصال نیازی ..........................................٦٣٠

پر ژبني درک او مفهومي ودې د ماشوم د ادبیاتو اغېز / پوهندوی ډاکټر احمد جاوید صدیقي .......٦٤٦

تحلیل ویژگی‌های زبانی در شعر معاصر ادبیات کودک / معاون‌محقق مظهرالدین لبیب............٦٥٨

د ماشوم دویمه ژبه او هغه ته د لیکلو لارې چارې / څېړندوی محب الله همتیار ...........٦٨٥

د ژبې زده کړه او پر ماشومانو یې اغېز / اکبر خان بهرام..........................................................٧٠٣

آموزش کودکان استثنایی / نامزد پوهنیار جمعه خان واثق، پوهنمل سیدمحمد رام .......٧١١

د ماشومانو د کیسو ژبنۍ ځانګړتیاوې / څېړنوال دکتور شهد رحیمي ..................................٧٢٩

د ماشوم ادبیاتو ژبنۍ ځانګړنې / پوهندوی رحمان الله قانع..................................................٧٣٩

بررسی اهمیت آموزش به زبان مادری در مقطع ابتدایی مکاتب افغانستان / پوهنمل دکتور نورالرحمن ناصح، پوهنمل دکتور غلام محمد پیمان، نامزد پوهنیار محب الله قیومی .....٧٥٣


## فولکلوري موضوعات


د ماشوم په ادبیاتو کې د فولکلوري ادب د ونډې ارزونه / څېړنوال رحیم الله حریفال ................ ٧٦٨

تأثیر بازی‌های محلی بر رشد اجتماعی کودکان و نوجوانان / عالیه حسنی، عبدالغفور محمدی .....٧٨٠

کودک و رسوم مرتبط با آن در فولکلور ترکمن‌های افغانستان / معاون محقق روزی محمد عمر .......٨٠٣

د ماشومانو په ذهني وده او ځيرکتيا کې د کيسيو ونډه / څېړندوی لطف الله صابر ......................٨١٤

نقش لالایی در آرام نگهداشتن روان کودک / نیلوفر وهاب ............................................٨٢٩

په پښه‌يي ژبه کې د ماشوم فولکلوریک ادبیات / څېړندوی فریدالله فرحان...............................٨٤٣

چیستان‌ها و نقش آن در رشد ذهنی کودکان / معاون سرمحقق عبدالمجید ندیم ....................٨٥٧

بررسی نقش تربیتی ادبیات شفاهی کودک و تأثیر آن بر انتقال مفاهیم محیط‌زیستی از دیدگاه استادان و کارمندان پوهنتون نیمروز- افغانستان / نامزد پوهنیار نصرالله بلوچ، محمدطاهر سردار، پوهنمل نورالله عابدی ..................................................... ٨٦٩

د ماشوم ادبیات او پښتو فولکلور / عطاءالله حسین‌زی...........................................................٨٩٣

اهمیت و چگونگی ادبیات کودک ترکمن‌های افغانستان / گل جمال جاهد مرگنزاده .....٩٠٦

نقش فولکلور در تکوین ادبیات کودک افغانستان / نیلاب صمیم ..........................................٩٢٤


## دویمه برخه / د ماشومانو روزنه


د اسلام له نظره د ماشوم روزنه / څېړنوال مفتي محمد نبي "المیداني" ..................................٩٤٥

د ماشومانو په روزنه کې د ماشوم ادبیاتو ونډه/ پوهندوی دکتور محمد رحمن رحماني ...............٩٥٩

اسباب ووسایل تربیت نیکوی کودکان در روشنی آیات قرآن کریم / نامزد پوهنیار موسی روحانی.....۹۷۲
د اسلامي شریعت په رڼا کې په مور او پلار د اولادونو حقونه / ابو محمد مفتي ذبیح الله الحقاني النورستاني ..........................................................................................۹۹۹
شیوه های تربیت کودک در روشنی احادیث نبوی / پوهنیار عبیدالله برهانی ........................۱۰۲۱
د اسلام له نظره د ماشوم د روزنې اړخونه / څېړندوی عزیزالرحمن رحماني ..........................۱۰۳۱
وظائف والدین در تربیت فرزندان از دیدگاهی قرآن وسنت / نامزد پوهنیار سعدالدین سعد .........۱۰۴۹
نقش خانواده مسلمان در تربیت کودک / پوهنیار محمد نبی رحیمی ................................۱۰٦۷
تربیت کودک در اسلام از ایمان تا اخلاق و جامعه پذیری / مولوی عنایت الله حقجو ...............۱۰۸۱
د شخصیت په جوړونه کې د ماشوم د ادبیاتو اغېزې او ننګونې / پوهنمل اکرام الله وقار .............۱۰۹۵
سهم مراکز تعلیمی در توسعه ادبیات کودک / سایق الله رحیمی .......................................۱۱۰۱
د نبوي لارښوونو په رڼا کې د ماشوم روزنه او د افغاني ماشومانو له وضعیت سره یې پرتلنه / پوهنوال خان محمد خدرخېل، پوهنوال عبد العظیم صدیقمل ............................ ۱۱۱۱
نقش کتاب در شکل گیری شخصیت و اخلاق کودکان.................................................۱۱۲۲
**د سیمینار پرېکړه‌لیک ......................................... ۱۱۳۹**

# سریزه

الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام على سید المرسلین و على آله وأصحابه أجمعین. أمابعد.

د ماشوم ادبیات هغو آثارو، لیکنو، کیسو او نظمونو ته ویل کېږي چې په طبیعي ډول په خپله د ماشومانو او یا په شعوري ډول د لیکوالو او شاعرانو له خوا پنځېدلي وي چې د ماشوم عمر، اړتیا، ذوق، ذهني وړتیا، د پوهې کچې او عاطفي نړۍ سره یې تناسب په کې په پام کې نیول کېږي. دا آثار د زړه راښکونکو کیسو او نظمونو، ساده ژبې او روښانه انځورونو په کارولو سره کښل شوي او یا لیکل کېږي چې موخه یې د ماشومانو د تخیل پیاوړتیا، د فکري، عاطفي او ټولنیز پرمختګ لپاره د ښوونیزو او روزنیزو فرصتونو برابرول دي.

دغه ادبیات د معاصرو ادبیاتو د یوې مهمې څانګې په توګه د راتلونکو نسلونو په فرهنګي، اخلاقي او ژبني هویت کې بنسټیز رول لري. په نړۍ کې له کابو دوو پېړیو راهیسې د ماشوم ادبیات د ادبیاتو د یوې خپلواکې څانګې په توګه پېژندل شوي دي، خو دا څانګه په شلمه پېړۍ کې د غوړېدا اوج ته ورسېده.

د ماشوم ادبیاتو حوزه د نورې نړۍ په ادبیاتو کې مهمه او پام‌وړ موضوع ده، خو سره له دې چې دغه ډول ادبیات د افغانستان د مختلفو ژبو په لرغونو متونو کې په بېلابېلو بڼو شته، خو معاصر مفهوم ته یې په کتلو سره، په افغانستان کې د ماشوم ادبیاتو ته هومره چې لازمه ده، پام نه دی شوی، خو له تېرو شاوخوا دوو- درېیو لسیزو راپدېخوا ورته پوهانو، څېړونکو او لیکوالو څه ناڅه توجه کړې ده. په افغانستان کې د ماشوم ادبیات د ادبیاتو د نوې څانګې په توګه د یوې پېړۍ او له دوو تر درېیو لسیزو راپدېخوا د مؤثرې مخینې په درلودو سره، لا ډېر تخصصي او جدي کار ته اړتیا لري.

د کوچنیانو ادبیات د دوی لپاره ځکه کښل کېږي چې تجربې یې محدودې وي، نو باید عالي، عام‌فهمه او ساده وي. دغه ډېر نازک او اختصاصي ادبیات چې د نورې نړۍ په ادبیاتو کې ورته ځانګړې پاملرنه شوې او لا یې په اړه په نورو جزئیاتو سره علمي- څېړنیزې چارې روانې دي، په افغانستان کې کومې هڅې چې په تېرو دوو- درېیو لسیزو کې شوي، زیاتره یې د دې ادبیاتو د خواخوږو اشخاصو او بنسټونو له خوا ترسره شوي دي.

د ماشومانو د ادبیاتو اهمیت، مبرمیت او اړتیا ته په کتلو د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز وپتېیله چې «د ماشومانو ادبیات او د هغوی د روزنې لارې چارې/ ادبیات کودک و شیوه‌های تربیتی آن» موضوع د ځانګړي علمي- څېړنیز سیمینار په ترڅ کې وڅېړي. هماغه و چې دغه موضوع سلسلتاً د علومو اکاډمي د علمي شورا د ۱۴۰۴/۲/۳۰هـ.ش= ۱۴۴۶/۱۱/۲۲هـ.ق نېټې په غونډه کې تصویب شوه. د ۱۴۰۴ کال په لړم میاشت کې د دې سیمینار د عملي کېدو لپاره د علومو اکاډمي د بشري علومو معاونیت او د ژبو او ادبیاتو مرکز مشرتابه هلې ځلې پیل کړې. په همدې لړ کې د سیمینار د علمي کمېسیون ورانديز وشو چې د علومو اکاډمي د ریاست محترم مقام له‌خوا منظور شو.

علمي کمیسیون خپلې چارې پیل کړې، اړوندو وزارتونو او ادارو ته د سیمینار لپاره د مقالو لیکلو خبرتیاوې ولېږل شوې چې له نېکه‌مرغه دغه اړینه او مبرمه موضوع د ګڼ شمېر پوهانو، څېړونکو او فرهنګیانو له تاوده هرکلي سره مخامخ شوه. د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړو، د بېلابېلو پوهنتونونو استادانو او نورو فرهنګیانو او لیکوالو د موضوع په تړاو علمي- څېړنیزې مقالې ولیکلې. دغه مقالې د علمي کمیسیون د غړو له خوا وارزول شوې چې په ټوله کې د دې سیمینار د تأیید شوو مقالو شمېر اته شپېتو ته ورسېد.

د علمي کمیسیون له خوا د دې مقالو د تدوین او اهتمام چارې ماته را وسپارل شوې، نو دغه ټولې مقالې مې وکتلې، ځینې پاتې املایي او انشایي

مسایل مې سم کړل چې دا دی کره بڼه یې ستاسو تر لاسونو در رسېدلې دي.

د دې سیمینار د علمي مقالو ځانګړنې دا دي:

- په لومړي ځل د نظام په چوکاټ کې د ماشوم ادبیاتو سیمینار جوړېږي چې له ښه‌مرغه (٦٨) علمي- څېړنیزې مقالې ورته لیکل شوي او بیا د علمي کمیسیون له خوا تر سمونو او اصلاحاتو وروسته تأیید شوې دي.
- په مقالو کې د ماشوم د ادبیاتو بېلابېل اړخونه، لکه عمومي تیوریکي موضوعات، تاریخي بهیر، منظوم ادبیات، منثور ادبیات، ژبني او ژبپوهنیز، فولکلوري مسایل تحلیل شوي دي. د دې ټولګې مقالې په همدې تسلسل ترتیب شوې دي.
- په دې مقالو کې روزنیز مسایل د قرآن کریم، نبوي احادیثو او د اسلافو له نظره بیان شوي دي، ترڅنګ یې په نظمونو کې ماشومانو ته روزنیز مسایل تحلیل شوي دي. د ماشومانو لپاره په کښل شویو نظمونو کې ښوونیزه منځپانګه موجوده ده چې محورونه یې اکثراً اخلاقي، ټولنیز او فرهنګي ارزښتونه لري.

په افغانستان کې د ماشومانو د ادبیاتو او د هغوی د روزنې د لارو چارو په برخه کې د دغې ټولګې چاپېدل بې‌ساری ګام دی چې څېړنې او مقالې یې د ماشوم ادبیاتو د حوزې او د هغوی د روزنې لپاره څېړونکو، ښوونکو او مینه‌والو ته د نورو تحقیقاتو لپاره ګټور علمي مواد برابروي.

ما چې د دې ټولګې مقالې د وروستي سمون په توګه کتلې، یو ډول خوښي مې احساسوله چې هم مو د ادبیاتو لمن په یوې مهمې منځپانګې سره بډایه کېږي او هم مې د خپل وطن ماشومان ذهن ته راتلل چې که له یوې خوا په تېرو کابو پنځو لسیزو کې په سرګردانیو او دربدریو کې را لوی شوي دي، خو ترڅنګ یې د ماشومانو اوسني نسل ته خپلو افغان پوهانو او څېړونکو د دوی د دورې یا سِـنې ډلې لپاره په خپلو څېړنو کې داسې مسایل مطرح او وړاندې کړي دي چې د دې مقالو په مطالعې او پیشنهادي طرحو

عملي کېدو سره به يې ژوند د ښه‌والي خواته لاړ شي او لږ تر لږه د سيمې د نورو هېوادونو د ماشومانو په څېر به ورته خدمت شوى وي.

په درنښت

څېړنپوه محمد آصف احمدزى

# پیغامونه او ویناوې

## ۱.۱.۱ د ماشوم د ادبیاتو د ارزښت، اړتیا او پیاوړتیا په اړه سیمینار ته د رئیس الوزراء پیغام

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم. اما بعد:

ماشـومان د ټـولنې لویــه پانګــه او د راتلـونکي بنســټګر بلـل کېـږي. د اســلام پــه مبـارک دیـن کـې د ماشـومانو پـه سـالمه تربیـه، اخلاقـي اصـلاح او روزنـه خـورا ډېـر تأکیـد شـوی دی. ځکـه همـدا ماشـومان د سـبا ورځـې ځوانـان دي چـې د ټـولنیز ژونـد درانـه مسؤلیتونه به په غاړه اخلي

د یــوه متــدین صــالح، باوقــاره او بااخلاصــه نســل روزل، هغــه ســتر مســؤولیت دی چـې پـه پایلـه کـې یـې ټولنـه معنـوي لوړتیـا، ثبـات او اصـلاح تـه رسـیږي چـې لـه همـدې امله باید د ماشوم روحي او فکري روزنه د حکومتي نظامونو په لومړیتوبونو کې وي.

څرنګـه چـې د نـوي نسـل د فکـري تنـویر او اصـلاح یـوه مهمـه وسـیله ادبیـات دي، بنـاء د ماشـومانو ادبیـات د نـوي نسـل د روزنـې د مـؤثرې وسـیلې پـه توګـه خـورا ارزښـت لـري. دا ادبیـات نـه یـوازې د ماشـوم د ژبـې د زده‌کـړې او وینـا د پختګـۍ سـبب ګرځـي، ترڅنګ یې ماشوم په فکري ډول سالم روزل کېږي او شخصیت یې وده کوي.

د افغانســتان اســلامي امــارت د افغــان ماشــومانو فکــري، اخلاقــي او تعلیمــي ودې تـه ژمـن دی او بـاور لـري چـې د ماشـومانو د ادبیـاتو پیاوړتیـا د یـوې متـدینې او پرمختللـې ټـولنې د جوړولـو لپـاره یـوه اړینـه چـاره ده. د افغـان ماشـومانو لپـاره د سـالمو، اغېزنـاکو، ګټـورو او ارزښــتناکو ادبیــاتو رامنځتــه کــول، تحقیــق او ژبــاړه او دې آثــارو تــه د ماشــومانو لاسرسـی هغـه مهـم مسـؤلیت دی چـې د اسـلامي امـارت تعلیمـي او فرهنګـي بنسـټونه یـې باید ترسره کړي.

اسـلامي امـارت بـاور لـري چـې فکـري اصـلاح او فـلاح لـه ماشـومتوبه پیلېـږي او هغـه ملتونـه چـې د ماشـوم ذهنـي ودې تـه پاملرنـه کـوي، نسـلونه او وطنونـه یـې لـه راتلونکـو بحرانونـو ژغـورل کیـږي، هغـه ملتونـه چـې د فکـري او کلتـوري ارزښـتونو د سـاتنې لپـاره منظمې تګلارې غوره کوي، د پردیو له فکري او کلتوري یرغل څخه خوندي وي.

پــه پــای کــې د ماشــومانو د ادبیــاتو پــر لیکوالــو، شــاعرانو، ښــوونکو او د ماشــومانو د تربیـې اړونـد خصـوصي او امـارتي ادارو پـر مسـؤلینو غـږ کـوم چـې د نـوي نسـل فکـري او اخلاقــي تربیــې تــه بشــپړه پاملرنــه وکــړي، خپلــې فکــري او ادبي توانمنــدۍ د راتلونکــو

نسلونو د سالمې روزنې لپاره وکاروي او داسې آثارو وپنځوي چې زموږ نوی نسل د دیانت، تقوا، پرهېزګارۍ، امانتدارۍ، مېړانې او لوړو دیني اخلاقو په روحیه وروزي.

په همدې هیله

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

الحاج ملا محمد حسن آخند

د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء

# د افغانستان د علومو اکاډمي د لوی رئیس شیخ الحدیث مولوي فریدالدین محمود د وینا متن

«د ماشومانو د ادبیاتو او د هغوی د روزنې لارو چارو» علمي- څېړنیز سیمینار ته د افغانستان د اسلامي امارت د کابینې غړو، رئیسانو صاحبانو، لیکوالو، څېړونکو او ټولو قدرمنو مېلمنو ته ښه راغلاست وایم، هرکله راشئ!

د افغانستان علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د خپل مسئولیت د سرته رسولو لپاره هر کال په بېلابېلو موضوعاتو علمي- څېړنیز سیمینارونه جوړوي؛ سږ کال یې هم په یوې مهمې موضوع سیمینار نیولی چې د علومو اکاډمۍ د څېړونکو ترڅنګ د هېواد له ګوټ ګوټ څخه د پوهنتونونو استادانو او عامو څېړونکو مقالې ورته رالېږلې دي، چې دا په خپله د دې موضوع اهمیت څرګندوي.

ماشومان د ټولنې مهمه او لویه برخه جوړوي، بیا په اسلامي ټولنه کې خو د اسلامي امت راتلونکې ده، نو په اسلامي فکر د سنبالې ټولنې د جوړولو لپاره د ماشوم روزنې ته پاملرنه مهمه او ارزښتمنه ده. موږ د خپل امت د لویو- لویو علماوو د ماشومتوب کیسې لولو او اورو یې، له هغو پوهېږو چې دوی ته په ماشومتوب کې خپلو والدینو او استادانو ځانګړی پام کړی او د هغوی د ښې روزنې لپاره یې خپلې هڅې نه دي سپمولي، ځکه خو تري دومره لوی او ستر علماء جوړ شوي چې خیر یې ټول امت ته څه چې ټولې نړۍ ته رسېدلی دی.

د ماشوم ادبیات د یوې ځانګړي هدف لپاره یوې خاصې طبقې ته ویل کېږي چې له یوې خوا د ماشوم ادبي تنده خړوبوي، د تخیل ځواک یې پیاوړی کوي او د ویلو، لوستلو او اورېدلو وړتیا یې لوړوي، له بلې خوا هغه خپلې راتلونکې ته متوجه کوي، تر څو ځان او جهان وپېژني او د ټولنې په سالمه وده کې برخه واخلي. له دې څخه د ماشومانو لپاره د ځانګړو ادبیاتو د تولید اړتیا جوتېږي، له ښه‌مرغه زموږ په ټولنه کې په بېلابېلو ژبو د ماشوم ادبیات په شفاهي او تحریري ډول موجود دي چې له زانګو څخه نیولې تر زلمیتوب پورې ماشومانو ته لوستل کېږي او یا یې ماشومان او تنکي ځوانان په خپلو منځونو کې وایي. په دغه ډول ادبیاتو کې د خوند تر څنګ یو ډول روزنه هم نغښتې ده. د دې ادبیاتو یوه غوښنه برخه د میندو نظمونه دي چې ماشوم له لومړیو ورځو ورسره اشنا کېږي او د مور د خواږه او مترنم غږ په

اورېدو سره ويده کېږي. اوسنيو تحقيقاتو دا څرګنده کړې چې په انسانانو کې څه حتی د نباتاتو پر وده هم خواږه او ښه الفاظ ښه تأثير لري. له ميندو وروسته خويندې هم د خپلو وروڼو او خويندو لپاره ډېر خواږه نظمونه لري، هغوی ورسره قرارېږي او د ارامۍ احساس ورسره کوي. په کورونو کې سپين‌ږيري او سپين‌سرې هم د ماشومانو لپاره کيسې وايي چې زياتره د ژمي په يخو ورځو کې د ماشوم د وتلو څخه د راګرځولو او هم د هغو د بوخت ساتلو لپاره رواج دي. د دې ټولو ترڅنګ پر شاعرانو او ليکوالو هم د ماشومانو يو دَين دی چې هغه ورته د دوی له ذوق سره برابر په ساده الفاظو يو څه ووايي چې د ماشومانو خوښ شي او زده کړه هم ترې وکړي.

زموږ د سيمينار ډېرې مقالې کېدای شي په دغه وروستي ډول ادبياتو پورې اړوندې وي. تر څو ليکوال متوجه کړو چې دوی بايد څه ډول ادبيات توليد کړي چې زموږ د ماشومانو د ادبي ذوق ترڅنګ د هغوی روزنه هم په کې وشي. هره ټولنه دين، ارزښتونه او اخلاق لري چې ماشوم بايد له لومړيو ورځو له هغو سره اشنا شي. په عام ډول هغه څه چې په ماشومتوب کې زده کېږي، هغه د عمر تر پايه پورې په خپل ذهن کې ساتي او د دوی د ژوند پر ټولو چارو يې تأثير جوت وي. لازمه ده چې د ټولنې دغې طبقې ته موږ داسې ادبيات توليد کړو چې هغوی سمې لارې ته برابر او وهڅوي، نه دا چې د هغوی د بې‌لارۍ او ګمراهۍ سبب شي، دا هغه وخت کېږي چې موږ ليکوال او شاعر متوجه کړو او دا د دغسې سيمينارونو او غونډو په جوړېدو سره ممکنېدای شي. په پرمختللې نړۍ کې د ماشوم په لومړيو کلونو باندې ډېرې خوارۍ کېږي تر څو هغوی د خپلې ټولنې له ارزښتونو سره برابر وروزي او د هغوی ذهن د خپلې ټولنې په ضرورتونو باندې خلاص کړي. د دغسې ټولنو ماشومان له لومړيو کلونو څخه هغو برخو ته چې ټولنه ورته اړتيا لري، متوجه وي. دا کار له ډېر پخوا څخه په اسلامي نړۍ کې هم دود وو، په مسجدونو کې به ملا امامانو په ماشومانو د خپلو سترو علماوو ځينې آثار لوستل او د هغوی د ښه فهم په خاطر به يې معنا او تشريح هم ورته کوله، چې اغېز يې هم ښکاره و او زموږ عامو خلکو به د هغوی نقل قولونه راوړل او يا به يې د هغوی خبرې د وجيزې په توګه کارولې، خو دا مراندې لږ څه سستې شوې دي. نوې نړۍ، نوې ټکنالوژۍ او نويو پرمختګونو څه نا څه تغييرات راوستل، خو اوس موږ بايد له دغو تغييراتو سره هم ځان آشنا کړو، د خپلې ګټې لپاره يې وکاروو. مخکې تر دې چې هغوی موږ تسخير کړي، موږ بايد هغه په خپله ولکه کې ونيسو، او له خپلو ديني او اخلاقي ارزښتونو سره برابر يې وکاروو.

په دې ورستيو کې چې موبايل او داسې نورې وسيلې جوړې شوې او حتی د ماشومانو تر لاسونو ورسېدې چې همدا څيزونه د ماشومانو په بې‌ځايه شيانو د مصروفېدو او له کتاب او

مطالعې سره يې د فاصلې د پيدا کېدو سبب شول- چې تر ډېره د دوی د وخت د ضـايع کېـدو باعث کېږي- موږ بايد په داسې لارو چارو کار وکړو تر څو ماشومانو ته لـه هغـو وسـيلو هـم ډېـر جالب ښکاره شي او د وخت د ضياع مخه يې ونيسي. يو له هغو لارو چې دا کار ممکنوي، هغـه د ماشومانو لپاره د ځانګړو ادبياتو رامنځته کول دي چې ژبه او مفاهيم يې د دوی د فهم وړ وي او دوی ته ډېر څه ور زده کړي. نـور څـه بـه د مقـالو لـه ليکوالـو څخـه واورو او زه نـور بحـث نـه اوږدوم، يو ځل بيا تاسو ټولو ته هرکلی وايم او هيله ده چې دغه سيمينار زموږ د ماشـوم د ښــې روزنې لپاره نوي فرصتونه رامنځته کړي. والسلام عليکم و رحمة الله و برکاته

# د اطلاعاتو او کلتور وزارت پیغام

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على النبي رحمة للعالمين، وبعد.

په انساني ژوند کې ځینې شیان بدیهي او هر چا منلي دي، یو له هغو څخه د انساني ژوند راتلونکي کې د اوسنیو ماشومانو رول دی، دا یو حقیقت دی چې د نن ټولنې ماشوم د سبا پلار او مشر دی، له همدې امله علماء وايي چې که غواړئ د یوې ټولنې راتلونکی معلوم کړئ د نن ورځې د ماشومانو روزنه یې وګورئ، که په یوه ټولنه کې د ماشومانو روزنې ته ښه پاملرنه کېدله، د هغې ټولنې راتلونکی روښانه دی، او که په کومه ټولنه کې د ماشومانو روزنې ته ښه پاملرنه نه کېدله، د هغې ټولنې راتلونکې تیاره او بد دی.

دا چې د ماشوم د روزنې لارې چارې څه دي؟ دا یو اوږد بحث دی او پراخه څېړنه غواړي؛ خو زه به په مختصر شکل څو ټکي ستاسو مخته کېږدم:

لومړی: د والدینو اصلاح

د ماشوم په ښه روزنه کې تر هرڅه وړاندې د هغه د والدینو اصلاح مهم رول لري او دا ځکه چې کله والدین تقواداره او صالحان وي، الله تعالی یې اولادونه هم صالحان کوي. الکهف سورت کې د موسی علیه السلام او خضر علیه السلام کیسه کې دا خبره روښانه شوې ده، ﴿وَكَانَ أَبُوهُمَا صَٰلِحًا﴾ کله چې والدین صالحان وي او بیا د خپل اولاد په هکله دعاء کوي، الله تعالی یې دعاګانې قبلوي.

**دویم: ښه نوم او پر وخت لارښوونې**

په دویم قدم کې ښه نوم د ماشوم په ښه روزنه کې رول لري، ځینو نومونو کې الله تعالی ځانګړی اثر ایښی وي، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې له مکې څخه مدینې منورې ته هجرت کاوه، لار کې یو تن ورسره مخ شو، نوموړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ضرر رسولو اراده کړې وه؛ خو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره څو خبرې وکړې، هغه مسلمان شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې د نوم پوښتنه وکړه، هغه وویل: زما نوم نذیر (وېروونکی) دی، رسول الله صلی الله

علیـه وسـلم یـې نـوم بـدل کـړ او ورتـه یـې وویـل: تـه بشـیر (زېـری ورکـوونکی) یـې. لـه دې ځخه علماء دا خبره ثابتوي چې هر اسم په خپله مسمی کې اثر لري.

د دې ترڅنـګ هغـه لارښـوونې عمـلي کـول هـم د ماشـوم پـه روزنـه کـې خـورا مهـم رول لـري، چـې رسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم خپـل امـت تـه کـړي دي او وایـي: اولادونـه چـې مـو اووه کلـن شي د لمانځـه امـر ورتـه وکـړئ او چـې لـس کلنـۍ تـه ورسـېږي، د لمانځـه پـه تـرک یـې ووهـئ! او هغـه نـورې لارښـوونې او آداب چـې د ماشـومانو د روزنـې په هکله یې بیان کړي دي.

**دریم: سالم چاپېریال**

د ماشـوم پـه روزنـه او ادبیـاتو کـې لـه کـوره بهـر چاپېریـال خـورا رول لـري، هـر ماشـوم د کـوڅې لـه نـورو ماشـومانو ادبیـات او کرکتـر زده کـوي، کـه د کـوڅې چاپېریـال ښـه وي، ماشـوم ښـه ادبیـات او کرکتـر زده کـوي او کـه خـدای مـه کړه د کـوڅې چاپېریـال ناسـم وي، د ماشـوم پـر اخلاقـو بـد اغېـز کـوي، د کـوڅې چاپېریـال اصـلاح کـول د هـر کـلي او سیمې د مشرانو او مصلحینو ټولنیز مسؤولیت دی.

**څلورم: غوره ښوونیز چاپېریال**

څلـورم ټکـی چـې د ماشـوم پـه روزنـه کـې مهـم رول لـري، ښـوونیز چاپېریـال دی، کـه یـو ماشـوم پـه غـوره او سـالم ښـوونیز چاپېریـال کـې وروزل شي، هغـه ځـه بـا مسـؤولیته، بادرکـه، ویښ او صـالح ځـوان جـوړېږي، او کـه ښـوونیز چاپېریـال یـې سـالم نـه وي، هغـه ماشوم بې مسؤولیته، بې درکه، غافل او ناصالح را لویېږي.

**پنځم: دوامداره خارنه**

د ماشـوم پـه روزنـه کـې د والـدینو دوامـداره څارنـه او د هغـوی پاملرنـه خـورا مهـم رول لـري، ځینـې والـدین پـورتنې ټـول مـوارد پـه پـام کـې نیسيـ؛ خـو چـې اولاد یـې لـږ را غـټ شي، بیـا یـې خپـل سر تـه پرېـږدي، چـې دا هـم د ماشـوم پـر روزنـه نـاوړه اغېـز کـوي، انسـان د داخـلي غریـزو او بیرونیـو تحریکونـو لـه املـه د غفلـت ښـکار کېـږي؛ نـو اړینـه ده چـې وخـت پـر وخـت بیـدار او متوجـه کړای شي، الله تعالی فرمايي: ﴿وَذَكِّرْ فَإِنَّ ٱلذِّكْرَىٰ تَنفَعُ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾.

دا پـه کـلي توګـه هغـه عمـده لارې چـارې دي چـې د ماشـوم پـه روزنـه کـې مهـم رول لـري، کـه والـدین همـدا عمـده لارې چـارې پـه پـام کـې ونیسيـ، ان شـاء اللـه چـې اولادونـه

به یې صالح او سالم وروزل شي.

الله تعالی دې زموږ او ستاسو ټولو اولادونه زموږ لپاره بقیه صالحه او صدقه جاریه وګرځوي. آمین

**شیخ شیر احمد حقاني**

د اطلاعاتو او کلتور وزیر

# د پوهنې وزارت پیغام

«د ماشوم ادبیات او د هغوی د روزنې لارې چارې» تر سرلیک لاندې سیمینار ته د ا.ا.ا د پوهنې وزیر پیغام!

الحمد لله رب العالمین، و الصلوة و السلام علی خیر خلقه محمد و علی آله و أصحابه أجمعین، اما بعد:

د دې علمي سیمینار ټولو ښاغلیو ګډونوالو ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

ډېر د خوښي ځای دی چې د افغانستان اسلامي امارت د علومو اکاډمي مسئولینو د خپلو علمي او اکاډمیکو نوښتونو په لړ کې دا ځل پر یوه مهمه موضوع باندې سیمینار دایر کړی دی چې هغه د ماشوم ادبیات او د هغوی د روزنې لارې چارې دي.

دا یو منل شوی واقعیت دی چې د نن ورځې ماشوم د یوې ټولنې د سبا ورځې مسئول او د راتلونکي معمار دی، له همدې امله باید د ماشوم سالمې ښوونې او روزنې ته زیاته پاملرنه وشي، په اسلامي عقیده، نبوي اخلاقو، نېک سیرت او صورت وروزل شي.

په نننی سیمینار کې هم د علومو اکاډمي او نورو علمي وزارتونو او اداراتو علمي، کادري او مسلکي غړي د یادې موضوع په اړه خپلې څېړنې، معلومات او نظریات وړاندې کوي او بې له شکه چې دغه څېړنې به د اسلامي امارت د هغو اداراتو لپاره چې د ماشومانو د ښوونې، روزنې، تکافل او سرپرستي په برخه کې کار کوي، زیات ګټور معلومات چمتو کړي.

د علومو اکاډمي درنو مسئولینو او د نننی سیمینار ښاغلیو تنظیمونکو ته مې وړاندیز دا دی چې په نننی سیمینار کې د لوستل شویو مقالو غورچاڼ رسمًا له اړوندو اداراتو سره شریک شي ترڅو هغوی ورڅخه استفاده وکړي.

زه د افغانستان اسلامي امارت د پوهنې وزارت په استازیتوب د دې ډول علمي سیمینارونو دایرول ډېر اړین او ضروري بولم، د نننی سیمینار ټولو تنظیموونکو او سمبالوونکو ته د زړه له کومي د مننې مراتب وړاندې کوم، الله تعالی دې په دې برخه کې د دوی خدمتونه قبول او مقبول وګرځوي. آمین.

دویم وړاندیز مې دا دی چې د پوهنې وزارت، د علومو اکاډمي او اسلامي امارت نور علمي وزارتونه او ادارات دې په علمي او تحقیقاتي ډګرونو کې د تجاربو د شریکولو او متقابلو

اکاډمیکو همکاریو یو میکانیزم ایجاد او د دې میکانیزم مطابق دې ګډ مزل پیل کړي. په دې برخه کې د پوهنې وزارت په استازیتوب د پوره او بشپړ ملاتړ ډاډ درکوم.

نور مو په لوی الله سپارم، خوښ او بریالي اوسئ.

والسلام

**الحاج مولوی حبیب الله آغا**

**د ا.ا.ا د پوهنې وزیر**

# د کار او ټولنيزو چارو وزارت پيغام

اعوذ بالله من الشیطن الرجیم

بسم‌الله الرحمن الرحيم

﴿وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَوْلَٰدَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَٰقٍ﴾ (الاسراء: ۳۱ آيت)

د افغانستان د علومو اکاډمۍ رهبرۍ او ټولو منسوبينو، په سيمينار کې حاضرو د مختلفو ادارو درنو مسؤولينو، علمای کرامو، د علمي بنسټونو قدرمنو استادانو، ټولو محترمو ګډونوالو او د رسنيو قدرمنو استازو!

**السلام عليکم ورحمة‌الله و برکاته**

تاسو ټولو ته د الله جل‌جلاله له سپېڅلي دربار‌ه د عافيت او روغتيا هيله‌مندي کوم، الله تعالی مو په ټولو اړوندو چارو او مسؤوليتونو کې بريالي لره او ستاسو د هر يوه هڅې دې د افغانستان او افغانانو د عزت، وقار، سرلوړۍ او پرمختګ لپاره د خير سبب وګرځي. ډېر لېوال وم چې تاسو سره مې په نننۍ پرتمېنه غونډه کې ګډون درلود او ستاسو نظريې، وړانديزونه، مقالې او څېړنې مې اورېدلې وی، خو ځينو نورو مسؤوليتونو چې هغه هم هېوادوالو ته د خدمت موارد وو، اجازه او فرصت را نه کړل، که وخت او ژوند وو، په راتلونکي کې به ورته غونډو او ناستو کې له نږدې ليده کاته ولرو.

**قدرمنو حضارو!**

د اسلام مبارک دين د مسلمانانو د ژوندانه په ټولو برخو کې واضحه تګلارې او لارښودونه لري، که هغه د اخلاقو برخه ده، د اړيکو برخه ده، د تعليم او تربيې موضوع ده او يا هم د ماشومانو د ساتنې، پالنې او د دوی د فکري او جسمي ودې موارد دي چې په عملي کولو سره يې کېدلای شي هر مسلمان خپل د ژوندانه چارې تنظيم او هم خپل ماشومان داسې وروزي، چې هم له شرعي نظره يې مکلفيتونه او مسؤوليتونه څرګند وي او هم دې په راتلونکي کې د يوه سالم او مسؤول شخص په توګه د خپل دين، ټولنې او وطن مدافع او خادم و اوسي. که د ماشومتوب له مرحلې څخه لازمه پاملرنه موجوده نه وي، نو پايله به يې نامطلوبه او په راتلونکي کې مختلفې ستونزې او ناخوالې وي.

زموږ په ټولنه کې د ماشوم لپاره تر ټولو مهم چاپېريال د هغه کورنۍ ده او په دې برخه

کې کورنیو ته ستر مسؤولیت متوجه دی، ځکه له همدې ځایه ماشومان خپل د ژوندانه لومړي گامونه اخلي او د تربیې او معنویاتو پړاو یې پیلېږي، په دې حساسه مرحله کې ماشومانو ته لازمه پاملرنه په حقیقت کې د هغوی په راتلونکي پانگونه ده. د کورنۍ چاپېریال دی چې ماشوم ته د شفقت، اړیکو، درناوي او تربیې زده‌کړې ورکوي او په دې مواردو یې سمبالوي.

د زده کړو د پیل پړاو یې بیا نو د حکومتونو په ځانگړې توگه د اسلامي نظام ستر مسؤولیت او دنده ده چې له همدې ځایه یې په فکري وده او سالمې مفکورې او تربیې کار وشي، مناسب او ځانگړی نصاب ورته چمتو شي او هم په یوه مناسب چاپېریال کې وروزل شي، ترڅو په راتلونکي کې د هغو معیارونو مطابق چمتو شي، کوم چې یې زموږ مبارک دین سپارښتنه کړې ده. که یادې دواړه مرحلې په همغږۍ او معقوله توگه ترسره شي؛ نو ټولنه به په راتلونکي کې له تاوتریخوالي، ستونزو او ناخوالو خلاصه وي.

د افغانستان اسلامي امارت په راتگ سره په دې برخو کې هڅې او اقدامات شوي او ورته پاملرنه شوې، خو لا ډېره پاملرنه او پانگونه به وکولای شي چې په راتلونکي کې د افغانستان د ټولنې هر وگړی داسې وروزي چې په عقیدوي، معنوي او ظاهري لحاظ مناسب او د اعتماد وړ شخص وي.

**د سیمینار محترمو گډونوالو!**

د دې ترڅنگ چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ له دې نوښت څخه مننه او قدرداني کوم او په دې برخه کې ورته د همکارۍ ډاډ ورکوم، مناسب یې بولم چې له ماشومانو څخه د ساتنې په برخه کې د یوه مسؤول بنسټ په توگه د کار او ټولنیزو چارو وزارت له ژمنې څخه ډاډ ورکړم چې په ټولو تقنیني او نورو اړوندو اسنادو کې به د افغانستان د هر ماشوم مصلحت، هوساینه، د ژوندانه د معیشت ښه‌والی او نورې اړتیاووې په پام کې نیسو او په دې برخه کې به له نورو ذیدخلو بنسټونو سره گام په گام پرمخ ځو او خپلو مسؤولیتونو ته به متوجه یو. والسلام علیکم ورحمةالله و برکاته

الحاج ملا عبدالمنان عمري

د کار او ټولنیزو چارو وزیر

# د کابل پوهنتون پیغام

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله وصحبه أجمعین.

د ماشوم ادبیات د عمومي ادبیاتو یوه مهمه برخه ده چې په پښتو ادبیاتو کې ورته په دې تېرو څو لسیزو کې پام ور اوښتی. دا ادبیات که په ولسي بڼه وي، که په لیکنۍ، باید د ماشوم نړۍ انځور کړي او ماشوم ته لار وښیي. هغه ادبیات چې د کوچني هیلو او د درک کچې ته پاملرنه نه کوي، هغو ته د کوچني ادبیات نه وايي، بلکې په ماشوم د لویانو د غوښتنو تحمیل ګڼل کېږي.

ماشوم د ټولنې راتلونکې ده او دا د مشرانو مسؤولیت دی چې د بېلابېلو لارو چارو په کارونه یې داسې وروزي چې د خپل دیني، ملي او ټولنیز مسؤولیت احساس ولري، په اسلامي فکر سنبال وي او د خپلو مشاهیرو لار وپالي. په دې لارو چارو کې یوه لار د ادبیاتو ده. د کوچني ادبیات دوه اړخه لري، یو له کوچني نه د لویانو د غوښتنو تبارز دی او بل له ادبیاتو نه د ماشوم د خوند اخیستو ذوق دی. د ماشوم ښه ادبیات هغه دي چې دا دواړه خواوې سره داسې غاړې غړې کړي، چې هم تر دې د لویانو غوښتنه ترلاسه شوې وي او هم پکې د کوچني ذوق خړوب شوی وي.

د ماشوم د ادبیاتو یوه موخه که د کوچنیانو د تفکر د ځواک پیاوړي کول او د شعور د کچې لوړول دي؛ نو بله موخه یې مطالعې ته د کوچني هڅونه او د ده د ادبي ذوق ځلونه ده، چې هم ژوند اصول زده کړي او هم د تخیل په مټ نوښتونه وکړي.

په دې ډول د کوچنیانو په ژوند کې که تفکر مهم دی؛ نو تخیل هم مهم دی. د تخیل او تفکر ځواک ته په کتو د هر سن د کوچنیانو ادبیات سره توپیر لري. تر لس کلنۍ د ټیټ کوچني تخیل تر تفکره پیاوړی وي، هغه ته باید داسې ادبیات رامنځته شي، چې تخیلي بڼه یې غالبه او ژبه یې ساده وي. د دې سن کوچنیان د خپل شاوخوا چاپېریال شیان په اسانه درک کوي. دې سن ته د لیکل کېدونکو ادبیاتو پیغام ساده او باید د کوچني له ورځني ژوند سره اړیکه ولري، لکه په ژوند کې نظم، په خپل وخت د کارونو کول او د مور و پلار د خبرې منل؛ خو دا موضوعات په استعاري او سېمبولیک کرکټرونو او ساده ژبه کې داسې وړاندې شوې وي، چې په کوچني و نه غمبېږي، بلکې د تخیل په سفر یې له ځان سره روان کړي.

خو چې د کوچني سن تر لس دولس کلنۍ لوړ شي، د ټولنې غوښتنو ته یې پام شي او د تفکر ځواک یې پیاوړی کېږي؛ نو ده ته داسې ادبیات ایجادېږي چې دی د ټولنې له لویو مسایلو سره اشنا کړي، د دیني او وطني مسؤولیت پالنې حس یې پیاوړی کړي او د سم فکر او چلن چل زده کړي.

د پښتو ادبیاتو په دې ویړ ډګر کې د ماشوم لیکنې ادبیات لا ځوان دي او له دې امله یې زیاتره مهم اړخونه له پامه غورځېدلي؛ نو پکار ده، چې دې برخې ته خپله پاملرنه ډېره کړو او که ښه راتلونکې غواړو، ماشومان باید ښه وروزو او د ښو ماشومانو د روزلو لپاره ورته د ښو او په اسلامي فکر د مالامالو ادبیاتو ایجاد اړین دی، دې سره به دوی د دې جوګه شي چې سبا ته د هیواد لویو مسؤولیتونو ته اوږه ورکړي او د نظام د ثبات ساتنې او د اسلامي فکر په ځلولو کې خدمت وکړي. د داسې آثارو او ادبیاتو مخنیوی باید وشي چې د ماشومانو د انحراف سبب ګرځي.

دا سیمینار په دې لار کې لوی ګام دی چې موږ به خپل دې منزل ته ورنږدې کړي؛ خو وروستی ګام نه دی، زه فکر کوم چې په مختلفو ډګرو او په مختلفو ډولونو، مثلاً د سیمینارونو، ورکشاپونو، د نصاب د مضامینو، د لیکوالو د هڅونو او د کوچنیانو د ادبي سیالیو په بڼه اړ یو، چې د کوچنیانو د ادبیاتو په ایجاد کې لوی او چټک ګامونه واخلو، چې دا خواره برخه شتمنه او ځان له نړۍ سره سیال کړو.

کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د نصاب په چوکاټ کې د کوچنیانو مضمون تدریسوي او ورسره استادان په دې ډګر کې په څېړنو هم بوخت دي. الله تعالی دې د افغانستان علومو اکاډمۍ ته په دې لار کې د لا نور کار توفیق ورکړي، زه دا سیمینار په دې ډګر کې یوه مهمه لاسته راوړنه بولم او ستاینه یې کوم.

درنښت

د کابل پوهنتون رئیس

دوکتور اسامه عزیز

# د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون د رئیس پیغام

قدرمنو استاذانو، درنو علمي شخصیتونو، ګرانو څېړونکو، معززو ګډونوالو او محترمو مېلمنو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

په ډېر ویاړ سره نن د داسې یوه علمي محفل خبر ترلاسه کوو چې د ټولنې د روزنې او فرهنګ له بنسټیزو برخو څخه یوې مهمې څانګې، یعنې «د ماشومانو ادبیات او د هغوی د روزنې لارې چارې» ته ځانګړې شوی دی. د افغانستان د ماشوم ادبیات نه یوازې د تفریح او پوهې د ترلاسه کولو وسیله ده، بلکې د اسلامي افکارو د روزنې، د دیني تخیل د پیاوړتیا او د راتلونکي نسل د فردي او ټولنیز شخصیت جوړونې لپاره یوه بډاینه سرچینه هم بلل کېږي.

د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون تل دا خپله دنده او رسالت ګڼلی چې د علم د پراختیا او د متعهدو او مسلکي انساني سرچینو د روزنې لپاره کار وکړي. په همدې لړ کې د ماشوم ادبیاتو ته پاملرنه او د هغو د روزنې لارې چارې زموږ د ایمان او وجداني مأموریت نه بېلېدونکې برخه ده؛ ځکه هغه ماشومان چې د اسلامي تفکر او تدبر، سالمو، روزنیزو او الهام بښونکو ادبیاتو په رڼا کې روزل کېږي، په راتلونکي کې به مسؤول، ویښ، متعهد، متدین او باخبره وګړي ترې جوړ شي.

له علمي پلوه د ماشوم د ادبیاتو تدریس نوې لارې چارې غواړي چې له ارواپوهنې سره سمون ولري او له بېلابېلو ښوونیزو وسایلو څخه په کې ګټه واخیستل شي. موږ باید د خپل هېواد بډایه ادبي دودونه د معاصرو تعلیمي علومو له لاسته راوړنو سره یوځای کړو، ترڅو داسې زمینه برابره شي چې ماشومان د ژوند له لومړیو کلونو څخه د یوې مسلمانې کورنۍ په غېږ کې د ژبې له ښکلاوو اخلاقي ارزښتونو او رغوونکو اسلامي افکارو سره بلد شي.

هیله ده دا علمي سیمینار د ارزښتناکو څېړنو د وړاندې کولو او د رغنده افکارو د تبادلې له لارې د هېواد په تعلیمي- تحصیلي نظام کې د ماشوم د ادبیاتو د مقام د لوړولو لپاره اغېزمن ګام وي او د تدریس د طریقو د ښه‌والي لپاره عملي لارې چارې د ښوونکو، څېړونکو او روزونکو په واک کې ورکړي.

د دې پروګرام د تنظیمونکو، عالمانو، څېړونکو او ټولو هغو درنو شخصیتونو څخه چې په

دې لاره کې یې ونډه اخیستې، په درنښت مننه کوم او د دې خاورې د اولادونو د سالمې روزنې او تعلیم په برخه کې د ټولو د بریا دعاء د لوی څښتن له دربار څخه کوم.

والسلام

مولوي عبدالحکیم حمدي

د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون رئیس

# د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د رئیس د وینا متن

## ماشوم څوک دی ؟

د پسرلي وېږ شوي چمن د هېواد ګڼ ګلالي ماشومان په خپله غېږه کې را ټول کړي وو، چا غونډوسکې کولې، څوک د خوسې پر لوبو بوخت ول، چا پټ پټونی کاوه او چا به هم د ماشومتوب د:

اکـــــو بکـــــو سر ســـــیندکو
غـــوا مـــې لاړه پـــه ترپکـــو
دا کـــــــلا د چـــــــا ده
دا د ادم خـــــــــــان ده

یا هم:

نـــــری نـــــری بـــــاران دی
ورور مـــــــــــې را روان دی
د کـــــټ لانـــــدې پیشـــــو ده
پیشـــــو تـــــه وایـــــم پشـــــې
هلکـــــه ســـــتړی مـــــه شـــــې

ترانې په ماشومانه او نازک اواز زمزمه کولې چې د ماشومانو ترڅنګ لویانو هم ترې خوند اخیست، خو له بدهمرغه زموږ د ګلالیو ماشومانو دغه شور او زوږ له نظره شو او په لنډ وخت کې سره ښامار خوله پرانیسته، نه یوازې یې تنکي ماشومان له ستونې تېر کړل، بلکې د هېواد غوښې یې وریتې او هډونه یې وشپېلل، ټولنه یې نسکوره او د وحشت لړې یې خورې کړې، چې په ډېر شواخون او قربانیو مهار شوې، خو له بدهمرغه دغه ښامار زموږ له ماشومانو شور، زوږ او مستې اخیستې وه، د زړه مراندې یې ورته شکولې او د ترانو ابۍ یې مړه کړې وه.

خو هوښیارې ټولنې په دې پوهېږي چې د ټولنې روښانه راتلونکې یې د ځیرک او هوښیار ماشوم په ویښتابه او مستقیم لاسنیوي کې نغښتې، نو بویه چې ماشوم خپلو مستیو، ماشومانه کیسو، اتلولیو او بریو ته پرېښودل شي، رواني سواد ورکړل شي او کورنۍ هڅونې یې روښانه برخلیک وټاکي.

د همدې موخې لپاره یو ځل بیا هلېځلې پیل شوې، په ټولنیز او چاپېریالي توګه دا مسایل برجسته شول. د ښار د دېوالونو ټنډې د ماشومانو پر شعارونو سینګار شوې. ځینو کورنیو زبات کړه چې د ماشوم فاضله مدینه یې د حقیقت په ښار بدله شوې او که وغواړي لا یې مضبوطولای او سینګارولای شي. د ماشوم میندو په داسې وینې وینې او ټپ ټپ چاپېریال کې خپل ماشوم ته ور پوهوله چې:

چــې ســبا لــه خیــره ځــوان شــې
د بابـــا پـــر پـــل روان شـــې
زه بـــه هســـکې ســـترګې ګـــرځم
چــې شــمله د لــوی افغــان شــې
قـــام بـــه باســـې لـــه تیـــارو
الا هـــــــو شـــــــه الا هـــــــو

خو له بدمرغه د کورنیو جګړو کرغېړنو او ذهن ځېرونکو چاودنو او د باروتو ترخو لوګیو یو ځل بیا افغان ماشوم د ویر پر ټغر کېناوه، دا ځل یې د کورنۍ بې‌سترۍ او د کډوالۍ ځپېړو پر روان دومره بده او نه هېرېدونکې اغېزه وکړه چې تر ډېره یې خودي او پر ځان ویسا له رینښې وچه شوه، خو باورمنو او ګروهمنو افغانانو یو ځل بیا دا ناهیلي پر هیلو، باور او یقین بدل کړل او ور زبات یې کړه چې افغان ماشوم د دې وړتیا لري، چې د حالاتو له داسې تورتمونو بریمن را ووځي او هر ډول ناخوالې پر دنګې اسلامي عقیدې او افغاني روحیې مهار کړي، چې له ښه‌مرغه دا ځل یې بیا سوبه خپله کړه او ډاډه یم چې داسې ډېرې ناخوالې به مهار او سوبې به خپلې کاندي.

له بده‌مرغه د ماشوم په اړه په نړیواله کچه نوې اندېښنې او پارونې پیدا شوې چې هغه د نوې ټېکنالوژۍ ناسمه او ډېره کارونه ده چې دغه چار د ماشوم ذهني وده ننګوي او ذهني پرمختیون یې سېځي، په دې معنا معاصرو ځېړنو ښودلې چې که ماشومان په دوامداره توګه له برېښنایي وسایلو او ټېکنالوژیکي ښکارندو ګټنه وکړي، نو د ذهن د ودې هغه پردې او رشتې چې دی پرې خپله روښانه ګانده ټاکي، مروړي او پوپناه کوي یې او دا یوه داسې ناخواله ده چې ټوله نړۍ ترې کړېږي او د خلاصون پر لارو چارو یې بوخته ده.

خو ادبپوهان وایي چې له دغو ناخوالو څخه د خلاصون د تقدسي لارې ترځنګ بله مهمه او رغنده لار د ماشوم ادب ده، چې هم ماشوم خپلو اسلامي، ټولنیزو، فرهنګي او ادبي لارو ته

ځیر کوي او هم یې د روښانه راتلونکي تضمین کوي.

پرته له شکه د ماشوم ادبیات د ماشوم په ښوونه او روزنه، د ماشوم په شخصیت جوړونه، د ماشوم په خلاقیت او فکر رغونه، د ماشوم په صله رحمۍ او ټولنې باندې د شفقت کولو په برخه کې مستقیمه او رغوونکې ونډه لري.

د ماشوم ادبیات د ماشوم د ذهني ودې دریځې پرانیزي، احساسات یې پیاوړي او اخلاقي وده یې مضبوطوي. که زموږ ماشومان پیاوړی تصور، ماشومانه ذهني درک، ښکلې مؤدبه او مهذبه ژبه او پر ټولنیزو حساسیتونو او نزاکتونو سمبال چلند ولري، پرته له شکه دا ټول به یې د ماشوم د ادبیاتو له کړکۍ خپل کړي وي او دې کړکۍ به ورته د عاطفې، مینې، شفقت، مهربانۍ، زړه‌سوي، هلو ځلو، د علم کسبولو، د هنر او مهارت خپلولو او دې ته ورته ښېګڼو وړتیاوې، لارې او ګودرې هم ور ښوولې وي، چې پرته له شکه پایله یې د ټولنې سمون، رغون او پیوستون دی، خو که چېرې دا اړخ کمزوری، پر بې باوریو او بې ارزښتیو ولاړ وي، نو پایلې یې د نړۍ ګڼ هېوادونه دي چې د زړه چاودون یې تر اوسه شاهدان یو.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ، د بشري علومو معاونیت د ژبو او ادبیاتو مرکز د ماشوم ادبیاتو ګڼو ارزښتونو ته په کتلو سره اړینه وبلله چې په یوې داسې حساسې زماني مقطع کې پر دې موضوع یوه پوهنیزه ـ څېړنیز یوه ورځنۍ څېړنغونډه یا سیمینار جوړ کړي، چې له ښه‌مرغه د افغانستان د علومو اکاډمۍ د مشرتابه په ځانګړې لورینې سره د دغه چار تابیا وشوه، چې د ترسراوي لپاره یې د افغانستان د علومو اکاډمۍ پر څېړونکو سربېره د هېواد د بېلابېلو پوهنتونونو استادانو کابو تر سلو پورې مقالې ورته ولیکلې او دا موضوع یې له هر اړخه وڅېړله، چې د علمي کار ډلې یا کمېټې له خوا تر پنځه شپېته پورې مقالې ومنلې او تر سمون وروسته یې موجوده سیمینار ته چمتو کړې. تمه ده چې غوښنه برخه یې په نننی سیمینار کې ولوستل شي او پاتې نورې به یې د پخوانیو ترسره شوو ژمنو په څېر په یوې علمي ـ څېړنیزې ټولګې کې چې عملاً ترتیب او د زرو مخونو په خواوشا کې ډیزاین شوې، چاپ شي چې مینه‌وال او د دې برخه څانګه‌وال ترې ګټنه وکړي.

دا چې نن د یوه داسې علمي ـ څېړنیز سیمینار د ترسره کېدلو شاهدان یو، دا ټول د علومو اکاډمۍ د مشفق مشر شیخ الحدیث مولوي فرید الدین محمود، د دفتر رئیس یې څېړندوی شوکت الله عابد، د بشري علومو مرستیال سرمحقق دوکتور محمد علم اسحق‌زي، د ژبو او ادبیاتو مرکز د علمي کمېټې د درنو غړو او ټولو ښاغلو استادانو، د تدارکاتي کمېټې د منلو غړو، د علومو اکاډمۍ د عمومي مالي او اداري ریاست او اړوندو ریاستونو یې، د دعوت او

ارشاد محترم ریاست، د اطلاعاتو او عامه اړیکو د ریاست او غړو یې او د امنیتـي او اسـتخباراتي پرسونل د هلو ځلو او سترو برکت دی، د ټولو دې کور ودان وي.

په پای کې د دغه علمي ـ څېړنیز سـیمینار لـه ټولـو درنـو او ښـاغلو مېلمنـو، د رسـنیو لـه استازو، خدماتي او تدارکاتي پرسونل او له ټولو درنو ګډونوالو څخه د زړه له تله مننه کـوم چـې زموږ په دې غونډه کې یې ګډون وکړ او غونډې ته یې لا ښکلا په برخه کړه.

څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي